مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۱/۰۱

# نـوی کـال

د نـوي کـال اول اذانـه سـره
د خلاص مکتب د تالی ټنګ پکار دی
غېږ کې نیولې رڼا ګاني غواړو
د تورتمونو سـره جنګ پکار دی

د وطن وږیـو تـه خـواړهٔ په کار دي
د سوال کـولـو نـه نور ځنګ پکار دی
دغـه د فقر نـه بې سترـه حوري
دغو تـور سـرو بـانـدي ننګ پکار دی

لـږه پري ورو ورو راوربېږه واوري
چي لوڅي پښي یتیم دې زور نه لري
ګران په نهره ګېډه یخ زغمل دي
شکور کې دوډۍ نه لري اور نه لري

ځار شم د نوي کال اولي سجدې
د پاکي خـورۍ آبـادي غـواړمـه
سپیني کـوتـرې د هوا په غېږ کې
سـتا الـوتـو تـه آزادي غواړمـه

بـاور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ